دو فصلنامهٔ
علمی-تحقیقی **عینک** علمي-څېړنیزه شپږ میاشتنۍ مجله

د امتیاز خاوند: لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه/مؤسسهٔ تحصیلات عالی لوګر
تاریخ جواز مجله: ۱۴۴۴/۱۱/۱۴

# د سید جمال الدین افغان پوهنتون د محصلانو پر سلوک د شخړه‌ییزو ټلوېزیوني ډرامو اغېزې څېړل

**پوهنمل اسدالله کلیوال**

ارواپوهنې څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، سید جمال الدین افغان پوهنتون. کونر: افغانستان.
برېښنالیک: kaliwalasad@gmail.com

**لنډیز**

**پېژندنه**: دغه څېړنه په سید جمال الدین افغان پوهنتون کې د محصلانو پر سلوک د شخړه‌ییزو ټلوېزیوني ډرامو اغېزې څرګندوي.

**موخه**: د څېړنې موخه دا ده چې د محصلانو د سلوک پر بېلابېلو اړخونو د شخړه‌ییزو ډرامو اغېزې روښانه شي.

**څېړندود**: د پېژندنې د موخې له نظره توصیفي، د اطلاعاتو رټولولو له نظره کمي او د پایلو کارولو له نظره کاربړدونکې څېړنه ده. د څېړنې جمعیت ۴۱۰۰ تنه وو، نمونه د کوکران فرمول په مرسته ۱٦۰ تنه ټاکل شوې او د ساده تصادفي مېتود له لارې ټاکل شوي دي. اطلاعات د څېړونکي له خوا جوړې شوې پوښتنپاڼې په مرسته راټول او د SPSS ۲۱پروګرام په مرسته تحلیل شوي.

**موندنې**: د څېړنې موندنې ښیي چې د یادو ډرامو کتل د محصلانو له فزیکي کړو وړو سره ۷۹ سلنه، له ژبني سلوک سره ٥٦ سلنه، له احساساتو او عواطفو سره ۵۸ سلنه او له فکر کولو سره ۳٦ سلنه اړیکه لري.

**پایله**: د څېړنې پایلې ښیي چې ټلویزیوني ډرامې د محصلانو د کړو وړو پر فزیکي، پېژندیز او ژبني اړخ اغېزه لري.

**کلیدي کلیمې**: احساسات، ژبنی سلوک، شخړه‌ییزې ډرامې، فزیکي کړه وړه، فکر.

استناد: کلیوال، اسدالله. (۱۴۰۳). د سید جمال الدین افغان پوهنتون د محصلانو پر سلوک د شخړه‌ییزو ټلوېزیوني ډرامو اغېزې څېړل. عینک علمي-څېړنیزه مجله، سال اول، شماره۲: ۱۹۹-۲۱۰.
خپرندویه اداره: لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه
© د لیکوال یا لیکوالان حق

**سریزه**

الحمدلله رب العلمین والعاقبت للمتقین والصلاة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین وبعد: ننني نړۍ د نورو پرمختګونو او تغییراتو تر څنګ د ټولنیزو رسنیو په برخه کې هم د پراخ بدلون شاهده ده، زموږ په ګران هېواد افغانستان کې هم د ډول ډول غږیزو، انځوریزو او چاپي خپرونو لکه (راډیو، تلویزیون، اخبار او مجلو) فعالیت او شمېر ورځ تر بلې زیاتېږي. هر ډول ټولنیزې رسنۍ د هغو د پروګرامونو او فعالیت له پلوه خلکو ته ځانګړی ارزښت لري او د ډېرو اورېدونکو، لیدونکو او لوستونکو د پاملرنې وړ وي. د مختلفو ټولنیزو رسنیو له منځ څخه تلویزیون یې هغه یو دی چې ښځې، نارینه، ماشومان، تنکي ځوانان، ځوانان او لویان یې مختلفې خپرونې ګوري او تعقیبوي.

په هېواد دننه د لسګونو او سلګونو نړیوالو چینلونو له منځه هر څوك د خپلې خوښې وړ چینل او ځانګړي پروګرامونه ګوري. لکه څنګه چې د ارواپوهنې څېړنو ښودلې، ډېرې کړنې او زدکړې د مشاهدې او تقلید له لارې صورت نیسي او خلك د نورو وګړو د سلوك له لیدو څخه زدکړه کوي. په تلویزیون کې د هرې خپرونې د کتلو انګېزه ممکن په خلکو کې توپیر ولري، ځینې یې د هېواد او نړۍ له حالاتو څخه د خبر تر لاسه کولو، ځینې یې په مختلفو برخو کې د اطلاعاتو تر لاسه کولو، ساعت تېرولو او ځینې د عادت له مخې دغه چاره سر ته رسوي. تلویزیونونه د نورو خپرونو تر څنګ ډرامې، فیلمونه او سریالونه هم خپروي، چې ځینې یې شخړه‌ییز اړخ لري او کولای شي چې د ځوانانو سلوك او رفتار تر خپلې اغېزې لاندې راولي. په نورو خلکو سربېره، محصلان هم د دغه ډول ډرامو له کتلو مستثنی نه دي، یعنې هغوی هم شخړه‌ییزې ډرامې ګوري. دغه ډول ډرامې کېدای شي د محصلانو پر ښکاره او پټ سلوك، ارزښتونو، پېژندګلوي او ټولنیزو ـ عاطفي اړیکو باندې خپلې اغېزې ولري.

د هیل (۲۰۰۵) په باور، پر انساني رفتار د اغېز لرونکو مېتودونو او فنونو له ډلې، تلویزیون یې ځانګړی هغه دی. یعنې تلوېزیون کتل د وګړو پر سلوك خپلې اغېزې لري. د شخړه‌ییزو تلویزیوني ډرامو اغېزې ممکن پر ټولو محصلانو یو ډول نه وي او دغه تغییر د هغوی د سلوك په ډول، شدت، مثبت او منفي اړخونو او ... کې له یو بل سره توپیر ولري. دا چې دغه اغېزې څه ډول دي او تر کومې کچې د محصلانو سلوك ورڅخه اغېزمن دی په دې څېړنه کې به څرګند شي.

د څېړنې مسأله: له تاوتریخوالي ډکې ډرامې تقریباً په ټولو تلویزیوني چینلونو کې خپرېږي او ځوانان وخت نا وخت دغه ډول ډرامې او فیلمونه ګوري. ډېر ځوانان دغه ډول ډرامې یوازې د ساعت تېرولو او خوند لپاره ګوري؛ خو مختلفو څېړنو (خانجاني او عظیم زاده، ۱۳۸۹؛ نورکراس، ۱۳۹۹؛ برجعلي، ۱۳۸۷) دا ثابته کړې ده، چې پر تلویزیون د شخړه‌ییزو صحنو کتل د ماشومانو، تنکیو ځوانانو او ځوانانو پر سلوك منفي اغېزې کوي؛ که څه هم ځینو څېړنو بیا د دې برعکس پایلې نشر کړي دي. په ټوله کې، «رسنۍ داسې یوه نړۍ کتلو ته وړاندې کوي، چې پکې بدني تاوترخوالی، له محافظت پرته جنسي کړنې، د سګرټو کارول او نشه راوړونکي توکي بې خطره ښیي» (براون او ویټرسون، ۲۰۰۲). تلویزیوني خپرونې تر ډېره د ستونزو د حل لپاره تاوتریخوالی د یوه ښه مېتود په بڼه ښیي، داسې چې د تاوتریخوالی

اهمیت نور هم زیاتوي. د البرت بندورا د ټولنیزې زدکړې نظریې پر بنسټ، خلك د مشاهدې او تقلید کولو له لارې زدکړه کوي او دا چې ټلویزیونونه شخړهییزې ډرامې هم خپروي کېدای شي د وګړو سلوك تر خپلې اغېزې لاندې راولي. که دغه ډول ډرامې د ځوانانو له لوري کتل کېږي؛ نو کېدای شي پر سلوك یې ناوړه اغېزه وکړي. د دې څېړنې مسأله دا ده چې شخړهییزې ډرامې د سید جمال الدین افغان پوهنتون د محصلانو پر سلوك هم اغېزې لري؟ په بله وینا، د سید جمال الدین افغان پوهنتون هغه محصلان چې شخړهییزې ډرامې ګوري په ورځني ژوند کې یې له خلکو سره سلوك څه ډول دی؟ کړه وړه یې له ډرامو کتلو اغېزمن دي؟ که دې پوښتنو ته ځواب وموندل شي، له محصلانو، د هغوی له کورنیو، استادانو او د پوهنتون له ادارې سره به مرسته شوې وي چې د محصلانو د سلوك پر عواملو لا ډېره پوهه تر لاسه او په مناسبو ځایونو کې ورڅخه ګټنه وکړي.

د څېړنې اهمیت او اړتیا: انځوریزې رسنۍ په ځانګړي ډول ټلویزیون هغه وسیله ده، چې نن ورځ یې ډېر وګړي ګوري او بېلابېلې خپرونې یې څاري. ډېر ټلویزیوني چینلونه د نورو پروګرامونو تر څنګ ډرامې او فیلمونه هم خپروي، چې ځینې دغه ډرامې شخړهییز اړخ لري او یو ډول تاوتریخوالی پکې شتون لري. دا چې شخړهییزې ډرامې او فیلمونه په ماشومانو، تنکیو ځوانانو او ځوانانو څه اغېزې لري په نړۍ کې له ډېرو کالونو راهیسې وربانديې ډول ډول څېړنې تر سره شوي، چې مختلفې پایلې یې څرګندې کړې دي. دا څېړنه هم چې د محصلانو پر سلوك د شخړهییزو ډرامو اغېزې ښیي، د هماغو څېړنو په تعقیب تر سره کېږي. دا چې د ټلویزیوني ډرامو خپرول او کتل دمګړۍ یوه عامه خبره ده؛ نو په دې پوهېدل اړین دي چې د دغه ډول ډرامو اغېزې د کتونکو پر سلوك څه ډول دي؟ په دې پوهېدل ډېر مهم دي، چې شخړهییزې ډرامې ځوانانو او په ځانګړي ډول محصلانو باندې له کومو اړخونو تأثیر کوي، دغه تأثیر مثبت دی که منفي او تر کومې کچې پورې دی. د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی، چې په یوه مشخص ځای (سید جمال الدین افغان پوهنتون) کې د پوهنتون د محصلانو د سلوك په بېلابېلو اړخونو د شخړهییزو ډرامو اغېزې څېړي. د دې څېړنې پایلې به له محصلانو، استادانو، کورنیو او ټولو هغو ټولنیزو نهادونو سره چې له ځوانانو سره سروکار لري مرسته وکړي.

د څېړنې مخلید: هر هغه عمل چې انسان یې تر سره کوي سلوك بلل کېږي (ګنجی، ۱۳۹۲) او انسان له ځان څخه مختلف کړه وړه ښکاره کوي چې ځینې یې بدني او ځینې یې ذهني اړخ لري. د انسان همدغه کړه وړه له مختلفو عواملو څخه اغېزه مني. د دغو عوملو له ډلې یو هم چاپېریالي عوامل دي (غزنوي، ۱۳۹۳). هر هغه عمل چې له وکړي څخه تر سره کېږي سلوك ورته ویل کېږي (آشتیانی،۱۳۹۴). د مختلفو پلانونو او لارو چارو په کار اچولو له لارې په کړنو کې زیاتوالی او کموالی راتلای شي، یعنې بدلون مومي (احمد، ۱۳۸۵) او په چاپېریالي عواملو کې یو مهم عامل چې نن سبا یې کارونه په ځانګړې توګه، ځوانانو او محصلانو کې زیاته ده د ټلویزیوني برنامو کتل دي. د هغو څېړنو پایلې چې په عملي ژوند کې د ټلویزیون پر مخ د تاوتریخوالي کتلو اغېزې څرګندوي، ځینې یې ښیي چې په طبیعي موقعیتونو کې د تاوتریخوالي لیدل وروسته په وګړي کې د تاوتریخوالي د ډېرېدو

سبب کېږي. په ځينو څېړنو کې ښودل شوې چې دغه ډول تاوتريخوالی په چلند باندې کومه اغېزه نلري او ځينو ښودلې چې اغېزې يې برعکس دي (فرجي، ۱۳۷۱).

يا هر عمل چې له ژوندي موجود څخه تر سره کېږي او د بل څه يا شخص پواسطه د اندازې وړ وي سلوک ورته ويل کېږي (سيف، ۱۳۹۵). رفتار چاپېريالي محرکاتو ته غبرګون ښودل دي (شکرکن، ۱۳۹۳). هغه تحرکات چې په چاپېريال کې تر سره کېږي او د انسان رواني ژوند له يو بل سره توپير لري، له بلې خوا د وګړي اوسنی کړنې د هغه د هغو موخو بيانوونکې دي چې دی يې لري (ادلر، ۱۳۷۹) او همدا ده چې د خلکو کړنې له ورته عواملو څخه يو ډول تاثير نه مني يعنې هر څوک د خپل فرديت پر بنسټ له هغه څخه اغېز مني. له انسان څخه تر سره کېدونکی عمل که هغه ښکاره اړخ ولري او که پټ رفتار ګڼل کېږي او د مختلفو عواملو شتون کولای شي رفتار ته بدلون ورکړي (کرومبولز، ۱۳۷۵). د انسانانو سلوک له ليدونکو اورېدونکو پېښو او هغو له درک څخه تاثير اخلي، ان کوچني ماشومان هم کولای شي د ټولنيزو مسايلو په ملاتړ رفتار وښيي. زان وکسلر او ملګرو (۱۹۹۲) يې د ماشومانو له ميندو وغوښتل چې د ماشومانو مختلف عادي هيجانات او نورمال کړنې تحريک کړي، مثلاً: د ماشوم په مخ کې خپل ځان په ځپېړه وهي او اخ وايي، په پايله کې له نيمو ډېر د ۱۳ تر ۱۵ مياشتو ماشومانو له ځانه يو ډول ملاتړ کوونکی ټولنيز رفتار او غبرګون ښوده (فاضل، ۱۳۸۵). دا په دې مانا چې ليدونکي حالتونه د وګړو په سلوک اغېز کوي.

ځينې څېړنې د دې بيانوونکې دي، چې آن د ډېر کم وخت لپاره هم د شخړهييزو رسنيزو خپرونو کتل د ژبني- فزيکي تاوترخوالي او شخړهييزو افکارو او احساساتو د زياتېدو سبب کېږي (اندرسون او ملګري، ۲۰۰۳). که څه هم د يو سلوک په رامنځته کېدو کې پېژنديز، بيولوژيکي او زدکړيز عوامل رول لري (فرانکن، ۱۳۹۲) خو د چاپېريالي عواملو په تاثير سره بدلون موندلی شي.

د خانجاني او عظيم زاده (۱۳۸۹) څېړنه ښيي: "هغه تنکي ځوانان چې ډېر شخړه لرونکي فلمونه يې کتل له هغو سره چې کم شخړه لرونکي فلمونه يې کتل په سلوک کې يې مانا لرونکی توپير ليدل کېده. له بلې خوا، د څلور ډوله تاوتريخوالي له منځه يوازې په ژبني تاوتريخوالي کې يې ښکاره توپير نه ليدل کېده او په نورو درې ډولونو کې يې پراخ توپير موجود و" (۸۱ مخ). هم جوړ راتلونکې او هم نه جوړ راتلونکې کړنې د ځينو ګډو مکانزمونو له لارې زده کېږي (نورکراس، ۱۳۹۹)؛ نو د شخړهييزو ډرامو کتل هم کولای شي د مختلفو کړنو د زدکړې سبب وګرځي.

د هوپف، هوبر او ويب (۲۰۰۸) څېړنه، چې پکې يې ټلويزيوني تاوتريخوالی څېړلی، دې پايلې ته رسېدلي چې کومو ماشومانو په ماشومتوب کې وېروونکي او شخړهييز فلمونه کتلي او ډېر تنکي ځوانان چې شخړهييزې لوبې يې تر سره کړې د ۱۴ کلنۍ په شاوخوا کې يې ډېر تاوترخوالی او ناسمې کړنې له ځان څخه ښودلې دي؛ خو ګسنتس‌چي (۲۰۰۴) ويلي، چې الکترونيکي وسايل په ژوند کې د تاوتريخوالي سبب نه کېږي؛ بلکې غير مستقيمې دښمنۍ او تاوتريخوالي ته زمينه برابروي (هماغه اثر، ۱۳۸۹).

څېړنو ښودلې، هغه ماشومان چې د ورځې ډېر وخت د ټلویزیون په کتلو تېروي د هغو په نسبت چې د ورځې ډېر کم ټلویزیون ګوري په کړنو کې یې ډېر تاوتریخوالی لیدل کېږي (سینګر، فریرسون او یارک، ۲۰۰۹). تولنیز سلوک هغه دی چې په یو وخت کې دوو یا څو کسانو تر منځ صورت نیسي (علیمي او ملګري، ۱۴۰۱) او ټلویزیون کتل ټولنیز سلوک ته ورته یو څه دی چې په سلوک باندې اغېزه کوي.

خانجاني او عظیم زاده (۱۳۸۹) د جوادي، سهرابي، فلسفي نژاد او برجعلي (۱۳۸۷) له قوله، چې په څېړنه کې یې د ټلویزیوني تاوتریخوالي کتو له امله په هلکانو کې د تاوتریخوالي اغېزې ښودلې لیکي، چې د کارټوني تاوتریخوالي له ۱۲ غونډو لیدلو وروسته د ماشومانو سلوک تغییر ونکړ. فرګوسن، میګل او هارټلي (۲۰۰۹) ښودلې، چې ټولویزیوني تاوتریخوالی یا د شخړه‌ییزو ویډیویي لوبو کتل په ځوانانو کې د تاوتریخوالي سبب نه جوړېږي. د کیوټز او ویور (2009) څېړنه هم پورته خبره تائیدوي.

د څېړنې موخې: د سید جمال الدین افغان پوهنتون د محصلانو پر کړو وړو د شخړه‌ییزو ډرامو د اغېزو څرګندول.

فرعي موخې:

۱) د محصلانو پر فزیکي کړو وړو د شخړه‌ییزو ډرامو اغېزې معلومول.

۲) د محصلانو په ژبني سلوک باندې د شخړه‌ییزو ډرامو کتلو تأثیر څرګندول.

۳) د محصلانو په عواطفو او احساساتو کې د شخړه‌ییزو ډرامو کتلو رول ښکاره کول.

۴) د محصلانو په افکارو باندې د شخړه‌ییزو ډرامو کتلو څرنګوالی روښانه کول.

ح: د څېړنې پوښتنې: د دې څېړنې اصلي پوښتنه دا ده چې-آیا د شخړه‌ییزو ټلویزیوني ډرامو کتل د محصلانو پر سلوک اغېزې لري؟

فرعي پوښتنې:

۱) د شخړه‌ییزو ډرامو کتل د محصلانو پر فزیکي سلوک څومره تأثیر لري؟

۲) د محصلانو ژبني رفتار تر کومې کچې له شخړه‌ییزو ډرامو کتلو څخه اغېز منونکی دی؟

۳) آیا د شخړه‌ییزو ټلوېزیوني ډرامې کتل د محصلانو په احساساتو او عواطفو تأثیر لري؟

۴) آیا د محصلانو د فکر ډول د شخړه‌ییزو ډرامو کتلو تر اغېز لاندې راځي؟

**مواد او کړنلاره**

دغه څېړنه په سید جمال الدین افغان پوهنتون کې د محصلانو پر سلوک د شخړه‌ییزو ټلویزیوني ډرامو اغېزې راښیي، د پېژندنې موخې له نظره توصفي، د اطلاعاتو راټولولو له نظره کمي او د بایلو کارولو له نظره کارېدونکې څېړنه ده. د دې څېړنې جمعیت د دغه پوهنتون ټول نارینه محصلان (۴۱۰۰ تنه) دي. د نمونې حجم د کوکران فرمول په مرسته ۱۶۰ تنه ټاکل شوي او د ساده تصادفي مېتود له لارې له پورته جمعیت څخه انتخاب شوي دي. اطلاعات د څېړونکي له خوا جوړې شوې پوښتنپاڼې په وسیله راټول

شوي، چې ۲۵ پوښتنې يې لرلې او د انساني سلوك څلور اړخونه (فېزيکي سلوك، ژبني سلوك، احساسات او فكر ډول) يې سنجول. د پوښتنپاڼې د (validity) معلومولو لپاره دا پوښتنپاڼه د څو څېړونکو له لوري وکتل شوه او د مفاهيمو اصلي اړخونه پکې راونغاړل شول. د (Reliability) معلومولو لپاره د کرونباخ الفا څخه کار واخيستل شو چې ۸۹ وه. راټول شوي اطلاعات د SPSS ۲۱ پروګرام په مرسته تحليل شوې او پر تړلي متغير د خپلواک متغيرونو د اغېز معلومولو لپاره له ساده خطي رېګرېشن څخه کار واخيستل شو.

## د څېړنې موندنې

د اطلاعاتو په تحليل کې د محصلانو پر سلوك د شخړه‌ييزو ټلويزيوني ډرامو د اغېزو معلومولو لپاره له ساده خطي رېګرېشن څخه کار اخيستل شوی او پر تړلي متغير (د محصلانو سلوك) باندې د خپلواك متغير (شخړه‌ييزو ټلويزيوني ډرامو) اغېزې څرګندې شوي دي. موږ په دې ځای کې له ساده خطي رېګرېشن څخه يوازې هغه ضريبونه را اخيستي، چې څېړنه کې ورته اړتيا ليدل کېده. لکه: معنی لرونکې سطحه (Sig) د تغيير سطحه (T)، بېټا (Beta)، معياري خطاء (SE) او غير معياري رېګرېشني ضريب (B).

بېټا (Beta) هماغه سټنډرډ شوي يا معياري ضريبونه دي او په هره کچه چې بېټا (Beta) او د تغيير سطحه (T) لوی وي او مانا لرونکې سطحه (Sig) کوچنی وي، پايله به د دې بيانوونکې وي چې خپلواک متغير پر تړلي متغير باندې اغېزه لري. په راتلونکو جدولونو کې زموږ راپور د بېټا (Beta) له مخې وړاندې شوی دی. که مانا لرونکې کچه له (۰,۰۵) څخه کوچنۍ په لاس راشي، دا څرګندوي چې خپلواک متغير په ښه توګه د تړلي متغير تغييرات روښانه کولای شي او ډېره اغېزه ورباندې لري؛ خو که دا کچه له (۰,۰۵) څخه لويه په لاس راشي، په دغسې حالت کې بيا خپلواک متغير د تړلي متغير تغييرات په ښه توګه نه شي روښانه کولای او د اغېز کچه به يې هم کمه وي.

(لومړی) جدول: د محصلانو په فزيکي سلوك د شخړه‌ييزو ډرامو اغېزې راښيي.

| وړاندوينه کوونکی متغير | غير معياري ضريب يا B | معياري خطاء يا SE | معياري ضريب يا Beta | د تغيير کچه يا T | مانا لرونکې سطحه يا Sig |
|---|---|---|---|---|---|
| ثابت مقدار | -۱۶.۹۰۹ | ۳,۳۷۶ | | -۵.۰۰۹ | .۰۰۰ |
| فزيکي سلوك | ۵۶۹, | ۰۵۴, | ۷۹۴, | ۱۰.۵۲۸ | .۰۰۰۱ |

پورته جدول ښيي، چې د محصلانو پر فزيکي سلوك (بدني کړه وړه، د لباس ډول، د ويښتو سټايل او ...) باندې د شخړه‌ييزو ډرامو کتلو اغېزې تر (۷۹.) پورې دي. د لاسته رغلې تغيير کچې ته په کتو د مانا موندنې (۰.۰۰۰۱) سطحه کې دومره کموالی مانا لرونکی دی. دا چې د مانا موندنې سطحه له (۰.۰۵) څخه (۰.۰۰۰۱) ته ټيټه شوې؛ نو دا پايله اخيستلای شو چې د شخړه‌ييزو ټلويزيوني ډرامو کتل د سيد جمال الدين افغان پوهنتون د محصلانو پر سلوك ۷۹ سلنه اغېزه لري.

(دویم) جدول: د محصلانو په ژبني سلوک د شخړهییزو ټلویزیوني ډرامو اغېزې راښيي.

| وړاندوینه کوونکی متغیر | غیر معیاري ضریب یا B | معیاري خطاء یا SE | معیاري ضریب یا Beta | د تغییر کچه یا T | مانا لرونکې سطحه یا Sig |
|---|---|---|---|---|---|
| ثابت مقدار | ۴.۱۲۶ | ۲.۱۹۰ | | ۱.۸۸۴ | .۰۶۴ |
| ژبنی سلوک | ۱۹۵, | .۰۳۵ | .۵۶۸ | ۵.۵۵۹ | .۰۰۰۱ |

په پورته جدول کې د لاسته راغلې تغییر کچې ته په کتو د مانا موندنې سطحه کې ۰۰۰۱. تغییر مانا لرونکی دی. دا چې د مانا موندنې سطحه (۰.۰۵) ده او دغه اندازه په پورته جدول کې (۰۰۰۱.) ته را ټیټه شوې؛ نو معیاري ضریب ته په کتو دا پایله اخیستل کېږي، چې د شخړهییزو ټلویزیوني ډرامو کتل د سید جمال الدین افغان پوهنتون د محصلانو پر ژبني سلوک (۵۶) سلنه اغېزه لرلای شي.

(درېیم) جدول: د محصلانو پر احساساتو د شخړهییزو ټلویزیوني ډرامو اغېزې راښيي.

| وړاندوینه کوونکی متغیر | غیر معیاري ضریب یا B | معیاري خطاء یا SE | معیاري ضریب یا Beta | د تغییر کچه یا T | مانا لرونکې سطحه یا Sig |
|---|---|---|---|---|---|
| ثابت مقدار | ۵.۱۹۴ | ۱.۶۵۳ | | ۳.۱۴۲ | .۰۰۳ |
| احساسات | ۱۵۴, | .۰۲۶ | .۵۸۵ | ۵.۸۲۱ | .۰۰۰ |

درېیم جدول څرګندوي چې د تغییر کچې پر بنسټ د مانا موندنې (sig) په (.۰۰۰) سطحه کې دغه تغییر مانا لرونکی دی. لکه چې لیدل کېږي، د مانا موندنې سطحه له (۰.۰۵) څخه (۰.۰۰۰) ته ټیټه شوې او که په جدول کې شته معیاري ضریب ته وګورو دا بیانوي چې د شخړهییزو ټلویزیوني ډرامو کتل د سید جمال الدین افغان پوهنتون د محصلانو پر احساساتو ۵۸ سلنه اغېزه لري.

(څلورم) جدول: د محصلانو د فکر په ډول د شخړهییزو ټلویزیوني ډرامو اغېزې راښيي.

| وړاندوینه کوونکی متغیر | غیر معیاري ضریب یا B | معیاري خطاء یا SE | معیاري ضریب یا Beta | د تغییر کچه یا T | مانا لرونکې سطحه یا Sig |
|---|---|---|---|---|---|
| ثابت مقدار | ۷.۵۸۹ | ۱.۶۰۵ | | ۴.۷۲۹ | ۰.۰۵ |
| د فکر ډول | ۰۸۲, | .۰۲۶ | .۳۶۶ | ۳.۱۷۳ | .۰۰۲ |

په پورته جدول کې د تغییر کچې تغییر ته په کتو د مانا موندنې (۰.۰۰۲) سطحه مانا لرونکې ده. دا چې مانا لرونکې سطحه له (۰.۰۵) څخه (۰.۰۰۲) ته را ټیټه شوې؛ نو که معیاري ضریب ته وګورو دا بیانوي چې د شخړهییزو ټلویزیوني ډرامو کتل د سید جمال الدین افغان پوهنتون د محصلانو د فکر په ډول ۳۶ سلنه اغېز لري. په دې مانا، هغه محصلان چې شخړهییزې ټلویزیوني ډرامې ګوري کېدای شي تر ۳۶ سلنې د دوي د فکر ډول تر خپل تأثیر لاندې راولي.

(۵) جدول: د لومړیتوب پر بنسټ د محصلانو د سلوک پر اړخونو د شخړهییزو ټلویزیوني ډرامو کتلو اغېزې.

| تړلي متغیرونه | معیاري ضریب یا Beta | مانا لرونکې سطحه یا Sig |
|---|---|---|
| د محصلانو فزیکي کړه وړه | ۷۹, | .۰۰۰۱ |
| د محصلانو احساسات | ۵۸, | .۰۰۰۱ |
| د محصلانو ژبنی سلوک | ۵۶, | .۰۰۰ |

| د محصلانو د فکر ډول | ۳۶. | ۰۰۲. |
|---|---|---|

پینځمه ګڼه جدول ته په کتو، د شخړه‌ییزو تلویزیوني ډرامو کتل د مانا موندنې په (۰۰۰۱.) سطحه کې د سید جمال الدین افغان پوهنتون د محصلانو پر فزیکي کړو وړو (۷۹) سلنه اغېزه ښیي. همدارنګه، د شخړه‌ییزو تلویزیوني ډرامو کتلو اغېز د دغه پوهنتون د محصلانو پر احساساتو باندې د مانا موندنې په (۰۰۰۱.)کې (۵۸) سلنه دی. د شخړه‌ییزو تلویزیوني ډرامو کتل بیا د مانا موندنې په (۰۰۰.)کچې سره د یاد پوهنتون د محصلانو په ژبني سلوک باندې (۵۶) سلنه اغېز او د همدغو ډرامو کتل بیا د یادو محصلانو د فکر په ډول د مانا موندنې په (۰۰۲.) سطحې سره (۳۶) سلنه اغېزه لري. څېړنه څرګندوي چې د شخړه‌ییزو تلویزیوني ډرامو کتل د دغه پوهنتون د محصلانو د سلوک پر بېلابېلو اړخونو اغېزې لري. په دې څېړنه کې چې د محصلانو د سلوک څلور اړخونه (فزیکي کړه وړه، ژبنی سلوک، احساسات و عواطف او د فکر ډول) په نظر کې نیول شوي، وموندل شوه، چې د شخړه‌ییز تلویزیوني ډرامو کتل د محصلانو د سلوک په هره برخه بېلابېلې اغېزې لري. څېړنه ښیي، چې د محصلانو له فزیکي سلوک سره د شخړه‌ییزو تلویزیوني ډرامو کتلو اړیکه ۷۹ سلنه ده. یعنې هغه محصلان چې دغه ډول ډرامې ګوري د دوی بدني کړه وړه، لباس، د ویښتانو او ږیرې ډول او ...) په لوړه کچه د لیدل شویو ډرامو تر اغېزې لاندې راځي. د دغو محصلانو ژبنی سلوک ۶۵ سلنه د شخړه‌ییزو تلویزیوني ډرامو له کتلو سره اړیکه لري. په دې مانا چې، کوم محصلان شخړه‌ییزې تلویزیوني ډرامې ګوري (د لغاتو کارول، د خبرو ډول، لهجه، کلیمي او ...)کې یې د یادو ډرامو کتلو اغېز څرګندېږي. دغه ډول، د یادو محصلانو احساسات او عواطف هم تر ۵۸ سلنه د شخړه‌ییزو تلویزیوني ډرامو کتلو سره اړیکه لري. په دې مانا، چې د یادو محصلانو عواطف او احساسات په شخړه‌ییزو تلویزیوني ډرامو کې له شته صحنو، پېښو، حالاتو او برخورد څخه متأثر دی. د محصلانو د فکر په ډول او فکر کولو سره بیا د شخړه‌ییزو تلویزوني ډرامو اړیکې ۳۶ سلنه ښودل شوي. یعنې د دغه ډول ډرامو کتل د محصلانو د فکر په ډول کم تأثیر لري.

**مناقشه**

اندرسون او ملګرو (۲۰۰۳) یې په خپله څېړنه کې ښودلې، چې آن د ډېر کم وخت لپاره هم د شخړه‌ییزو رسنیزو خپرونو کتل د ژبني ـ فزیکي تاوتریخوالي او شخړه‌ییزو افکارو او احساساتو د ډېرېدو سبب کېږي. زموږ د څېړنې موندنې د اندرسون له څېړنې سره همغږي لري. دا څېړنه ښیي، چې د شخړه‌ییزو تلویزیوني ډرامو کتل د سید جمال الدین افغان پوهنتون د محصلانو پر سلوک ژورې اغېزې لري. خانجاني او عظیم زاده (۱۳۸۹) ښودلې چې کومو تنکیو ځوانانو شخړه لرونکي فلمونه ډېر کتل د هغو په نسبت چې دغه ډول فلمونه یې کم کتل په سلوک کې یې ښکاره توپیر لیدل کېده. هغه زیاتوي، چې د څلور ډوله تاوتریخوالي له جملې یوازې په ژبني اړخ کې د دواړو ډلو تر منځ ښکاره توپیر نه لیدل کېده. د دې څېړنې موندنې د خانجاني او عظیم زده د څېړنې پایلې تاییدوي؛ خو دا څېړنه ښیي چې د شخړه‌ییزو تلویزیوني ډرامو کتل د سلوک په څلورو اړخونو (فزیکي، ژبني، احساسات و

عواطف او فکر) باندې اغېزې لري؛ مګر په هر اړخ باندې يې د اغېزو کچه سره توپير لري. هوپف، هوبر او ويب (۲۰۰۸) ورته څېړنه په ماشومانو او تنکي عمر ته رسېدونکو هلکانو باندې تر سره کړې او موندلې يې ده، چې کومو ماشومانو ډېر له تاوتريخوالي ډک فلمونه کتل په تنکی ځواني عمر کې يې په کړنو کې ډېر تاوتريخوالی ليدل کېده. دې څېړنې بيا وښوده چې شخړه‌ييزې ټلويزيوني ډرامې کتل د ياد پوهنتون د محصلانو پر سلوک اغېزه لري، په خاص ډول د هغوی پر فزيکي کړو وړو. دا په داسې حال کې ده چې د دې څېړنې ګډونوال ټول د ځوانی عمر کې و.

فرګوسن، مېګل او هارټکل (۲۰۰۹) څرګنده کړې، چې ټلويزيوني تاوتريخوالی يا شخړه‌ييزې ويډيويي لوبې کتل په ځوانانو کې د تاوتريخوالي سبب نه کېږي. د فرګوسن د څېړنې پايله د دې څېړنې له پايلې سره همغږي نلري. دا څېړنه ښيي، چې د شخړه‌ييزو ټلويزيوني ډرامو کتل د محصلانو پر سلوک اغېزه لري او دغه اغېزې د سلوک په ځينو اړخونو باندې خورا زياتې ښودل شوي دي. زموږ د څېړنې موندنې د کيويټر او ويور (۲۰۰۱) د څېړنې له پايلې سره هم همغږي نلري.

په طبيعي ځايونو کې د تاوتريخوالي ليدل په وګړو کې د تاوتريخوالي زياتېدو سبب کېږي (فرجي، ۱۳۷۱). که څه هم د دې څېړنې موندنې د فرجي د څېړنې پواسطه منل کېدای شي؛ خو دا بايد په پام کې ونيول شي، چې هغه په طبيعي ځای کې د تاوتريخوالي په ليدلو ټينګار کړی، په داسې حال کې چې په دې څېړنه کې مصنوعي موقعيت يعنې ټلويزيوني ډرامې کتل پر سلوک اغېزمن ښودل شوي. د فلسفي نژاد او برجعلي (۱۳۸۷) يوې څېړنې ښودلې چې په کارتوني فلمونو کې د تاوتريخوالي له ۱۲ غونډو کتلو وروسته د ماشومانو په سلوک کې کوم تغيير رامنځته نشو. د فلسفي نژاد او برجعلي څېړنه که څه هم دا بيانوي چې په ټلويزيون کې د تاوتريخوالي ليدل د ماشومانو پر سلوک کومه اغېزه نلري او دا څېړنه ښيي چې د شخړه‌ييزو ټلويزيوني ډرامو کتل د محصلانو پر سلوک اغېزه لري؛ خو د دې څېړنې پايلې د پورته څېړنې پواسطه ځکه نشو رد کولای، چې شخړه‌ييزې ډرامې (مصنوعي ځای) کتل له کارتوني ډرامو کتلو سره توپير لري.

**پايليزه**

د انسانانو پر سلوک د اغېز لرونکو عواملو له ډلې يو يې هم ټولنيزې رسنۍ په ځانګړي ډول انځوريزې رسنۍ دي. د انځوريزو رسنيو خپرونې د ماشومانو، تنکيو ځوانانو او ځوانانو پر سلوک خپلې اغېزې لري، يعنې د دغو رسنيو د خپرونو په ځانګړي ډول د ډرامو کتل ليدونکو باندې خپلې اغېزې لري. که څه هم انځوريزې رسنۍ په ځانګړې توګه ټلوېزيون له ډېر وخت راهيسې زموږ په هېواد کې مروج دی؛ خو له تېرو دوو لسيزو راپدې خوا يې شمېر کې د پام وړ ډېروالی راغلی. ټلويزيونونه د نورو خپرونو تر څنګ ډرامې او سريالونه هم خپروي، چې ځينې يې شخړه‌ييز اړخ لري. سره له دې چې دغه ډول ډرامې ټول خلک ګوري؛ خو تنکي ځوانان او ځوانان يې ډېر مينوال دي. دا چې د شخړه‌ييزو ټلويزيوني ډرامو کتل هم د ليدونکو پر سلوک اغېز لري که نه؟ مختلفې څېړنې ورباندې تر سره شوي

دي. ځینو ښودلې چې د دغه ډول ډرامو کتل د کتونکو په سلوک کې د تاوتریخوالي ډېرېدو سبب کېږي. ځینو څېړنو ثابته کړې چې د شخړه‌ییزو ډرامو په ځانگړي ډول شخړه‌ییز کارتوني پروگرامونه کتل د ماشومانو پر سلوک هېڅ اغېزه نلري. له دې څېړنې څخه چې په سید جمال الدین افغان پوهنتون کې د محصلانو پر سلوک د شخړه‌ییزو ټلویزیوني ډرامو اغېزې ښیي، دا پایله لاسته راغله چې د دغه ډول ډرامو کتل د محصلانو او لیدونکو د سلوک فزیکي، ژبني، احساساتو او فکر باندې اغېزه لري. نو ښه دا ده چې د دغه پوهنتون محصلان هغه شخړه‌ییزې ډرامې ونه گوري چې له اسلامي او کولتوري ارزښتونو سره ټکر لري؛ ځکه چې د دوی کړه وړه ورڅخه اغېزمن کېږي.

**سرچینې**


آدلر، الفرد. (۱۳۷۹). شناخت طبیعت انسان از دیدگاه روانشناسی. مترجم: طاهره جواهرساز. تهران: انتشارات رشد.

امیدوار، احمد. (۱۳۸۵). روشهای تغییر رفتار، رفتار درمانی و شناخت درمانی. مشهد: انتشارات فرا انگیزش.

جوادی، فاطمه؛ سهرابی، فرامرز؛ فلسفی‌نژاد، محمدرضا؛ برجعلی، احمد. (۱۳۸۷). «بررسی تأثیر سبک مداخله در تماشای خشونت تلویزیونی بر پرخاشگری پسران ۹- ۱۱ ساله». پروهش و سنجش. دور ۱۵، شماره ۵۴.

خانجاني، زینب؛ عظیم زاده، شیوا. (۱۳۸۹). «مقایسه نوع و میزان پرخاشگری در میان نوجوانان در معرض نمایش فیلم‌های خشن نوجوانان مشکین شهر». زن و مطالعات خانواده. سال سوم، شماره (۹)، ۸۱- ۹۶ مخونه.

سیف، علی اکبر. (۱۳۹۵). تغییر رفتار و رفتار درمانی. تهران: انتشارت دوران.

شکرکن، حسین و دیگران. (۱۳۹۳). مکتبهای روانشناسی و نقد آن. چاپ هشتم. تهران: سمت.

علیمي، سراج الدین؛ صدیقي، خواجه ذبیح الله؛ حبیبي، محمدناصر. (۱۴۰۱). عمومي ارواپوهنه. ژباړن، محمدطاهر خپلواک. اووم چاپ. کابل: سلیمان ماکو خپرندویه ټولنه.

غزنوی، محمد ظاهر شمس.(۱۳۹۳ ). روانشناسی عمومی. کابل: انتشارات نامی.

فرانکن، رابرت. (۱۳۹۲). انگیزش و هیجان. مترجم: اسفنداباد، محمودي او امامي پور. چاپ چهارم. تهران: نشر نی.

فرجي، ذبیح الله. (۱۳۷۱). انگیزش و هیجان. تهران: انتشارات خردمند.

کرومبولز. (۱۳۷۵). تغییر دادن رفتارهای کودکان و نوجوانان. مترجم: یوسف کریمی. تهران: انتشارات فاطمی.

گنجی، حمزه.(۱۳۹۲ ).روانشناسی عمومی. تهران: نشر ساوالان.

ماتلین، ډبلیو مارگریت. (۱۳۸۵). روانشناسی عمومی. مترجم، محمدفاضل. کابل: انتشارات رازقلم.

میلتن برگر، ریموند. (۱۳۹۴). شیوه‌های تغییر رفتار. مترجم: آشتیاني، علی فتحی. تهران: سمت.

نورکراس، جان؛ پروچاسکا، جیمز. (۱۳۹۹). نظریه های مشاوره و روان درمانی (انالیز ترنس ـ تیوریک). مترجم: مهدی گنجی. تهران: نشر ساوالان.

Anderson, C.A. Berkowitz, E. Huesmann, L.R. Johnson, J.D. Linz, D. Malamuth, N.M. Wartella, E. (2003). The influence of media violence on youth Psychological science in the public Interest, Supplement. VO (4), Issue (3).

Hill, M. W. (2005). The impact of information on society: an examination of its nature, value and usage (M. Nokarizi, Trans). Berlin: de gruyter saur.

Ferguson, C. Miguel, C. Hartley, R. (2009). A Multivariate Analysis of Youth Violence exposure, aggression, hostility and empathy.VO (155), Issue (6).

Kiewitz, C. Weaver, J. (2001). Trait aggressiveness, media, and perceptions of interpersonal conflict. Personality and Individual Differences, volume 31, pages 821- 835.

Singer, M. Slovak, K. Frierson, T. York, J. (2009). Viewing Preferences, Symptoms of Psychological Trauma, and Violent Behaviors among Children Who Which Television. Journal of the American Academy of Child & Adolescent Psychiatry. VO) 37), Issue) 10).

Two quarterly

Ainak Academic- Research Journal

Logar Higher Education Institute Journal license date: June/2023

# The impact of conflicting television dramas on the behavior of students of Sayed Jamaluddin Afghan University

**Asadullah Kaliwal**

Psychology ،Education faculty ،Sayed Jamaluddin Afghan University.

E-mail address:kaliwalasad@gmail.com

## ABSTRACT

**Introduction**: This study،demonstrates the effects of conflicting TV dramas on students' behavior at Sayed Jamaluddin Afghan University.

**Objective**: This study is aimed at demonstrating the impact of conflicting dramas on different aspects of student behavior.

**Methods**: Descriptive in terms of purpose ،quantitative in terms of collecting data and is functional in terms of application. The study population was 4,100. The sampling was done based on Cochrane formula and 160 people were selected based on simple random method. Data were collected through a researcher-made questionnaire and analyzed by SPSS21 software.

**Results**: The findings of the study show that the study of conflicting television dramas has a profound effect on the behavior of students of Sayed Jamaluddin Afghan University. 79% relate to Physical Behavior, 56% of verbal behavior ،58% with emotions and 36% with thinking.

**Conclusion**: Watching violent TV shows has an impact on physical, cognitive, verbal and etc. behavior of the students.

**Key words**: emotions, verbal behavior, conflicting dramas, physical behavior, thoughts.

**Cite this article**: Kaliwal, Asadullah .(2024). The impact of conflicting television dramas on the behavior of students of Sayed Jamaluddin Afghan University, Academic – Research Journal (Two Quarterly). 1(2): 199-210

Logar Higher Education Institute © The Author(s).